# دهقان

هفته‌نامه


معياري كرنه؛ نړيوال بازارته لاس رسـی

زراعت معیاری؛ دستیابی به بازار جهانی


هفته‌نامه دهقان ▪ شماره یکصدونوزدهم ▪ شنبه ▪ ۱۵قوس ▪ ۱۳۹۹







## وب‌سایت وزارت زراعت در میان وب‌سایت‌های دولتی اول شد


۳




## ډاکټر انوارالحق احدي، له ولسي جرگې څخه د كرنې وزير په توگه د باور رايه ترلاسه كړه

د ولسي جرگې د لينـدۍ پـه لسـمه رايـه اچونه كـې ډاكټـر انوارالحق احـدي، د خلكـو اسـتازو لـه خـوا د كرنـې، اوبولگولـو او مالـدارۍ د وزيـر پـه توگـه د بـاور رايـه تـر لاسـه كـړه. پـه دې رايـه اچونـه كـې ۲۴۴ رايـې واچـول شـوې، چـې لـه دې ډلـې ښـاغلی احـدي ۱۸۹ رايـې ترلاسـه كـړه.

د كرنـې، اوبولگولـو او مالـدارۍ وزيـر د ولسـي جرگـې لـه بـاور څخـه د مننـې او قدردانـۍ ترڅنـگ، د خلكـو لـه اسـتازو غـوړاي، چـې د كرنـې د ودې پـه پـار د چـارو د پرمختـگ او د پـروژو پـه پـلي كولـو كـې د كرنـې لـه وزارت سره لا ډېـره همغـږي ولـري.



## هلمند کې د پنبې کرکیله؛ د مالوچو سږني حاصلات یې ۲۰ سلنه زیات شوي


۶




## ننگرهار ته د اوبولگولو د مرستیال سفر؛ په ننگرهار کې د پیازو او کچالو ۳۹۷ زېرمتونونه گټې اخیستنې ته وسپارل شول


۳

## گپ دهقان

### یک‌ساله‌گی نبود یک قهرمان؛ درس‌های ناکامورا به افغان‌ها

امروز، اولین سالگرد درگذشت تتسو ناکامورا، یا کاکا مراد افغان‌ها است. تتسو ناکامورا، یا به قول اکثریت افغان‌ها، کاکا مراد، که به دلیل خدماتش، شهروندی افتخاری افغانستان را از سوی رییس جمهور محمداشرف غنی به دست آورده بود، اسطوره‌ی خدمت‌گزاری به بشریت بود که پس از ۳۰ سال کار برای افغان‌ها قربانی شد. او قهرمانانه در ۷۳ ساله‌گی در یک حمله با شماری از همکاران افغانش در ننگرهار جان باخت.

قربانی شدن او، موج عظیمی از اندوه و تسلیت را به دنبال داشت. در کنار واکنش مقام‌های حکومت وحدت ملی و دیگر بزرگان، واکنش اکثریت قاطع شهروندان افغانستان به جنایت «حمله به تتسو ناکامورا و همکارانش»، سرشار از خشم بر عاملان این حمله و سپاس‌گزاری از تتسو ناکامورا بود. کسی که به جای زنده‌گی در کشور خودش، به افغانستان آمد و ۳۰ سال برای انسانیت، شاید خیلی بهتر از شهروندان افغانستان، به کشورشان خدمت کرد. بر اساس گفته‌های یکی از رسانه‌های جاپانی، او در آخرین مورد، تصمیم داشت تا در سال‌های پیش رو، با عملی‌سازی پروژه‌های آبیاری، برای ۶۵۰ هزار نفر، سرسبزی و طراوت به ارمغان بیاورد.

او وجدان بیداری داشت که نمی‌توانست با ناراحتی‌اش کنار بیاید. در سال ۲۰۰۰ میلادی، اتفاقی که زنده‌گی او را دگرگون ساخت، خشک‌سالی وحشت‌ناک در مناطقی از شرق افغانستان و مناطق مرزی پاکستان بود. در نتیجه آن خشک‌سالی، میلیون‌ها نفر تحت تأثیر قرار گرفتند. به دلیل کمبود آب و غذا، تعداد کودکانی که از عفونت‌های روده‌ای مانند «دیسترس» و «وبا» رنج می‌بردند، افزایش یافت.

پس از آن، بر بنیاد آمارها، تتسو ناکامورا یک هزار و ۶۰۰ چاه آب آشامیدنی و زراعتی را برای مردم ساخته بود. چند بند کوچک محلی آب به بهره‌برداری سپرد. برای جمع‌آوری پول به خاطر سرسبز شدن مزارع زراعتی ننگرهار بارها در زادگاهش(جاپان) طلب کمک می‌کرد.

واقعیت امر این است که تتسو ناکامورا راهش را برگزیده بود. راه او خدمت‌گزاری به انسان‌های پرِ از مشکلات در وطنی بود که هیچ جایش کاملا امن نبود، اما او هراسی از این واقعیت نداشت و با استقبال همه‌ی این مشکل‌ها، خدمت‌رسانی برای انسان‌ها را انتخاب کرد و در این راه مثل یک قهرمان جان داد.

درگذشت او مایه‌ی تأسف و تأثر است، اما این رویداد به ما می‌آموزاند که پذیرش خطرات و دشواری‌ها برای گسترده‌ساختن روایت انسانی و خدمت‌گزاری به انسان‌های محروم، انکار کردنی نیست؛ این درس بزرگی است.

یک سال پس از درگذشت او، و حتا سال‌ها و قرن‌ها پس از درگذشت او، نباید فراموشش کنیم. زنده‌گی و کارکرد او، درس‌های بزرگی برای افغان‌ها داده است. افغان‌ها می‌توانند با الگوبرداری از شخصیت او، شجاعت خدمت بیاموزند و بیش‌تر از پیش، در ساخت بنیادها و زیربناهای اقتصادی و اخلاقی جامعه کار کنند. کارکرد ناکامورا به ما می‌آموزاند که انسانیت مرز ندارد. او به تمام معنا، این بیت بیدل را عملی کرده بود. بیدل می‌گفت: «اختلاف رنگ بیدل در لباس افتاده است/ورنه یک رنگ است خون، در پیکر طاووس و زاغ»

ما این نوع سرمایه‌های علمی و اخلاقی را داریم، و در گذشته بزرگان ما دریافته‌اند که واقعیت زنده‌گی چیست،، اما وقتی ما تطبیق‌کننده‌ی آن نیستیم و ناکامورا از جاپان ۳۰ سال به ما این دریافت بزرگ را با کارهایش نشان می‌دهد، بزرگ‌تر از کارش، اگر کمی تعمق به خرج دهیم، درسی را به ما شرح می‌دهد که ما درک کنیم: این درس بزرگ این است: خدمت‌گزاری به انسانیت، بدون در نظر داشتن گپ‌های فرعی شکل و شمایل و علاقه و تفکر و دیگر مسایل شخصی.

## هېواد کې سږکال د کبانو ۳۵۰ نوي فارمونه جوړ شوي دي



د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت چارواکي وايي، چې د روان کال په ترځ کې د کرنې وزارت او خصوصي سکټور له لارې د هېواد په ۳۴ ولايتونو کې د کبانو ۳۵۰ توليدي او تکثيري فارمو جوړ شوي دي.

د کرنې وزارت د کب روزنې د برخې امر خليل الله فروغ وايي، چې سږکال په ټوليزه توګه د هېواد په بېلابېلوولايتونو کې د کرنې وزارت د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې له خوا د کب روزنې ۱۰۰ فارمونه او په ورته وخت کې د خصوصي سکټور له خوا د کب روزنې ۲۵۰ فارمونه جوړ شوي دي.

د کرنې وزارت د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي پروژه د کب روزنې ۱۰۰ نوي فارمونه چې په کې د کبانو د بچيو دوه توليدي فارمونه شامل دي د کونړ، بلخ، بغلان، لغمان، کندهار، خوست او هرات په ولايتونو کې جوړ کړي دي، چې توليدي فارم يې د ۲.۷ ميليونه بچيانو د توليد وړتيا او تکثيري فارمونه يې د کبانو د دوه ميليونه او ۴۰۰ زره وبچيانو وړتيا لري.

خليل الله فروغ زياته کړه: «د شمېرو له مخې چې موږ تر لاسه کړي دي، سږکال د کبانو د توليد کچه هم د تېرکال په پرتله يوزر او ۵۰۰ ټنه زيات شوي دي.» دا په داسې حال کې ده، چې تېرکال د کبانو د توليد کچه نږدې ۱۰ زره ټنو ته ورسېد او سږکال ۱۱ زره او ۵۰۰ ټنو ته رسيږي.

## جوزجان کې پر ۷۵ مالدارانو د شېدې لوشلو کڅوړې ووېشل شوې



د جوزجان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست په دې ولايت کې د مالدارۍ د پراختيا او د مالدارانو د ملاتړ په پار پر ۷۵ مالدارانو د شېدې لوشلو کڅوړې وېشلي دي. دغه کڅوړې، چې په هر کڅوړه کې د شېدې لوشلو ۱٦ توکي شاملې دي د کرنې وزارت د طبيعي پېښو له کبله د رامنځته کېدونکو ګواښونو د کموالي پروژې «CDRRP» له خوا ددې ولايت د خواجه دوکوه، خانقاه او فيض آباد په ولسواليو کې پر ۵۰ نارينوو او ۲۵ ښځينوو مالدارانو وېشل شوي دي.

## پروان کې د سبزوار حوض او کانال د څه باندې ۱۲.۸ میلیونه افغانیو په لګښت جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول



د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د پروان ولايت د سياه ګرد ولسوالۍ د سبزوار د اوبولګولو کانال او حوض جوړ او عملاً ګټې اخيستنې ته وسپارل.

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د اوبولګولو رياست چارسمبال خليل الرحمن عمر وايي، چې د سبزوار حوض د ۵۰ پر ۴۰ مترو پراخوالي سره، په يوه جريبه ځمکه کې رغول شوې ده. ښاغلی عمر زياته کړه، چې ياد حوض د درې زره او ۸۰۰ متر مکعب اوبو د زېرمه کولو وړتيا لري.

د اوبولګولو رياست د چارسمبال په خبره، ياد حوض او ورسره کانال يې، ۲۴۰ جريبه ځمکه خړوبوي او په نېغه ورڅخه ۳۵ کورنۍ ګټه پورته کوي. د دغو زېربناوو دجوړولو ټوليز لګښت ۱۲ ميليونه او ۸۰۷ زره او ۴۱۰ افغانۍ ده.

## کونړ کې د مالدارۍ سکټور د لا پیاوړتیا په پارهڅې

د کونړ د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست چارواکي وايي، چې د مالدارۍ سکټور د پراختيا په پار يې هڅې پيل کړي دي، چې ورځ تر بلې يې وضعيت په ښه کېدو دی.

د کونړ د کرنې رياست وايي، چې ددې ولايت په مرکز او ولسواليو کې د مالدارانو وړتيا لوړولو په پار دوی ته په بېلابېلو برخوکې روزنيزې برنامې په لاره اچول، په استېشنونو کې مصنوعي القاح ترسره کول، څارويو ته د برسلوز، وړو شخوند وهونکو څارويو د طاعون او نورو ناروغيو د واکسينونو پروګرام پلي کول، د څارويو د عامه ساتن ځايونو دواپاشي، په حيواني محصولاتو او درملو کنټرول، د بې کفيته حيواني محصولاتو او تاريخ تېرو درملو له منځه وړل، په ولايتي حيواني لابراتور کې د بېلابېلو حيواني ناروغيو تشخيص، سيرويلانس، سيروسرويلانس او څارنه شامل دي.

ددې ترڅنګ د کونړ د کرنې رياست او همکارو موسسو لخوا په کونړ کې د مالدارۍ سکټور د پياوړتيا په موخه ګڼې برنامې پلي شوي چې، د کبروزنې ۲۰ بابه يو جريبه فارمونه او د کبانو بچيو د توليد يو باب هيچري جوړول، د شاتو مچيو روزنکو ته په ياده برخه کې اړونده توکي وېشل، د لبنياتو د راټولونې ټولنې او د شېدوراټولو مرکزونه جوړول او په يادو برخو کې د اړوندو توکو وېش، د چرګانو روزونکو ټولنه جوړول او د چرګانو روزنې صنعت پياوړی کول، پر مالدارانو د څارويو ٦۲۹ مټريک ټنه خوراکي توکې وېشل او د خصوصي سکټور ملاتړ په کې شامل دي، چې ددې ولايت د مالدارۍ سکټور د پراختيا په پار تر سره شوي دي.

د دغو برنامو په پلي کېدو سره د مالدارۍ سکټورخوندي، د ناروغيو کچه ټيټه او د څارويو محصولات ډېر شوي دي.

# ننگرهار ته د اوبولگولو د مرستیال سفر؛ په ننگرهار کې د پیازو او کچالو ۳۹۷ زېرمتونونه گټې اخیستنې ته وسپارل شول

د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت د اوبولگولو او طبیعي سرچینو مرستیال حشمت‌الله غفوري په شتون کې د ننگرهار په ولایت کې د پیازو او کچالو ۳۹۷ زېرمتونونه گټې اخیستنې ته وسپارل شول. دغه زېرمتونونه د کرنیزو محصولاتو مدیریت د طرحې په اډانه کې جوړې شوي دي.

د کرنې وزارت د اوبولگولو او طبیعي سرچینو مرستیال حشمت‌الله غفوري، چې ننگرهار ته د خپل سفر په ترخ کې یاد زېرمتونونه رسماً گټې اخیستنې ته وسپارل، وایي د کرنیزو محصولاتو مدیریت د طرحې په اډانه کې د هېواد په کچه نږدې ۱۲ زره پروژې د پلي کېدو په حال کې دي، او ننگرهار لومړی ولایت دی، چې یاده طرحه یې په بشپړه توگه بشپړ کړې دی.



**د اوبولگولو او طبیعي سرچینو مرستیال وایي، چې د ننگرهار په ولایت کې د پیازو او کچالو د ۳۹۷ زېرمتونونو د جوړولو لگښت، ۱۳۹ میلیونه افغانۍ ده.**

ښاغلی غفوري ددغو پروژو په پلي کولو کې د قومي مخورو او پراختیایي شوراگانو له همکاریو مننه وکړه او وویل، چې د بزگرانو او بهوال د ملاتړ په پار یاده برنامه راتلونکی کال هم پلي کیږي.

په همدې حال کې د ننگرهار والي ضیاالحق امرخېل، بزگرانو لپاره د یادو زېربناوو د جوړولو په پار د کرنې له وزارت څخه مننه وکړه او وویل، چې د ننگرهار ولایت په ۱۴ ولسوالیو کې بزگرانو لپاره مناسب زېرمتونونه جوړ شوي دي. ښاغلی امرخېل وویل، چې تېرکال د پیازو حاصلات گاونډي هېواد ته تلل او کله چې د افغانستان په بازارونو کې د پیازو کمی محسوسېدل بېرته افغانستان ته واردېدل. ښاغلی امرخېل وویل، چې سږکال یاده ستونزه هواره شوې او بزگران کولا شي، چې خپل محصولات په خپله د بازار تر اړتیا پورې زېرمه کړي. د ننگرهار والي زیاته کړه، چې د پیازو زېرمتونونه په هغو سیمو کې جوړ شوي دي، چې د پیازو تولید ډېر او ساتنې ته یې د اړتیا کچه لوړ دی.

د کرنیزو محصولاتو مدیریت د طرحې په اډانه کې د پیازو او کچالو زرگونه زېرمتونونه، ممیزخونې او د انارو او مڼو دساتنې په پار د سارک مدل صفر درجې سړې خونې جوړول او د مېوو او سبو وچوونکي ماشینونه وېشل شامل دي، چې په ۱۳۹۹یم کال کې پیل او لومړی پړاو یې ډېر ژر بشپړیږي.

# وب‌سایت وزارت زراعت در میان وب‌سایت‌های دولتی اول شد

کمیسیون دسترسی به اطلاعات، با ارایه‌ی گزارشی از ارزیابی ۴۴ وب‌سایت مربوط به وزارت‌خانه‌ها و اداره‌های مستقل، اعلام کرد که در میان این وب‌سایت‌ها، وب‌سایت وزارت زراعت، آبیاری و مالداری در جایگاه نخست قرار گرفته است.

کمیسیون دسترسی به اطلاعات در گفتمان «دسترسی به اطلاعات دستاوردها، چالش‌ها و فرصت‌ها» با حضور رهبری و اعضای این کمیسیون، مسوولان مراجع اطلاع‌رسانی ادارات دولتی در کابل، دیده‌بان شفافیت، کمیته مصونیت خبرنگاران و نهادهای جامعه مدنی برگزار شده بود، با ارایه‌ی گزارش تحلیلی نظارت از وب‌سایت ۴۴ اداره دولتی و مستقل، گفت که وب‌سایت وزارت زراعت با در نظر داشتن ۴۴ شاخص پیش‌بینی شده در قانون دسترسی به اطلاعات، با دریافت ۹۹.۹۷ امتیاز در جایگاه نخست قرار گرفته است.

زهرا موسوی از کمیشنران کمیسیون مستقل دسترسی به اطلاعات، در این گفتمان، گفت که این گزارش در برگیرنده‌ی نظارت از تطبیق ماده پانزدهم قانون دسترسی به اطلاعات به منظور تامین و تقویت دسترسی به اطلاعات، حصول اطمینان از شفافیت و تقویت فرهنگ اطلاع‌رسانی، پاسخ‌گو ساختن ادارات به ارایه‌ی اطلاعات، ایجاد زیرساخت‌های دسترسی به



اطلاعات می‌باشد. خانم موسوی افزود که مطابق به یافته‌های این گزارش، وب‌سایت‌های ادارات به سه دسته عالی، متوسط و ضعیف تقسیم‌بندی شده‌اند.

در گزارش کمیسیون دسترسی به اطلاعات نیز آمده است که وزارت زراعت، آبیاری و مالداری اولین اداره‌ای بوده که از وب‌سایت آن در مطابقت با شاخص‌های چهل‌وچهارگانه‌ی ماده پانزدهم قانون دسترسی به اطلاعات نظارت صورت گرفته است. در این گزارش آمده است: «اطلاعات در وب‌سایت این اداره در مطابقت کامل با شاخص‌های چهل‌وچهارگانه به نشر رسیده بود که از نکات قابل‌دید می‌توان به وضعیت نشر مصارف مالی اداره اشاره نمود که این مصارف به صورت هفته‌وار نشر می‌گردد. قابل یادآوری است که وزارت زراعت، آبیاری و مالداری دارای وب‌سایت بسیار غنی بوده و جهت غنامندی هرچه بیش‌تر وب‌سایت، مشوره‌هایی در بعضی از موارد از جمله جزییات تشکیل اداره و هم‌چنین مشاورین موجود و برخی مسایل دیگر از طرف تیم نظارتی داده شده بود که مورد استقبال قرار گرفت.»

در همین حال، اکبر رستمی رییس اطلاعات و ارتباط عامه و سخنگوی وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، در گفتمان امروزی کمیسیون دسترسی به اطلاعات، درباره کارهایی که در وزارت زراعت به ویژه در بخش غنامندی وب‌سایت، نشر اطلاعات پیش‌گیرانه و سیستم‌سازی اطلاعات صورت گرفته، جزییات داد.

آقای رستمی ضمن تشکر از کمیسیون دسترسی به اطلاعات، گفت که وزارت زراعت اداره‌ی جدی در بخش تطبیق کامل قانون دسترسی به اطلاعات دارد.

وب‌سایت وزارت زراعت در حالی در میان وب‌سایت‌های ۴۴ اداره دولتی و مستقل جایگاه نخست را دارد که سال گذشته نیز در همین جایگاه قرار داشت.

وزارت زراعت به تاریخ هفتم میزان نیز، از سوی دیده‌بان شفافیت افغانستان کلید طلایی اطلاع‌رسانی را دریافت کرد و در زمینه‌ی اطلاع‌رسانی در میان ادارات دولتی اول شد.

# د ننگرهار کانال د زېرمو د بيا رغوني پروژې پېژندنه، کړنې او لاسته راوړنې



جمعه‌گل اشرفی
خبريال



د ننگرهار کانال د زېرمو د بيا رغوني پروژه (NVDA) د اوبولگولو يوه مهمه پروژه ده، چې د پخواني شوروي اتحاد په تخنيکي مرسته په ۱۹۶۱ زېږديز کال کې جوړه شوې او په لومړي ځل د اوبولگولو لوی کانال ته ورکړل شوه، چې په ټولېزه توگه ۷۰ کيلو متره اوږدوالی لري او ۲۵ زره هکتاره ځمکه، چې درې زره يې بڼونه او پاتې ۲۲ زره هکتاره يې کرنيزې ځمکې دي، خړوبوي.
ياد کانال د سره رود، بهسودو، بټي کوټ، غني خېل او مهمندرې ولسوالۍ کې د باسول ترکلي پورې ټولي ځمکې خړوبوي.
د ننگرهار کانال د زېرمو د بيا رغوني پروژه (NVDA) د ننگرهار او بلخ په ولايتونو کې د اوبولگولو، ننداريزو قطعو او بزگرانو ته د روزنې په برخه کې خورا رغنده فعاليتونه تر سره کړې دي.

**د افغانستان په ختيځ زون کې د ننگرهار وادي د پروژې موخي په لاندې ډول دي:**

**۱- پراخه شاړې او سوځنده ځمکې تر کرنې لاندې راوستل او په ځانگړې توگه د زيتون او ستروسو د بڼونه جوړول.**
**۲- د ډول ډول ونو په ځانگړې توگه د يوکليپتس د ونو کرنه، چې له يوې خوا دسيمې دسمسورتيا لامل گرځي او له بل پلوه دچاپېريال د پاکوالي، په سيمه کې د تودوخې د درجې ټېټېدل او همدارنگه د مېوه لرونکو ونو او بڼونو لپاره د تندو بادونو د گړنديتوب د کچې ټېټولو لامل گرځي.**
**۳- د پروژې د اقتصادي کچې د لوړوالي لپاره د زيتونو تيل، اچار، سټروسو او مالدارۍ (لبنياتو) د محصولاتو پروسس او بهر ته صادرول.**
**۴ - په هره دولتي او يا شخصي ځمکه يا وياله کې د اوبو د يو پرمختللي سيستم شتون، چې د اوبو د ضايعاتو مخنيوی کوي او د اوبو د عادلانه وېش په برخه کې مرسته کوي.**

**د ننگرهار کانال د زېرمو د پراختيا پروژې (NVDA) اساسي لاسته راوړنې:**

د ننگرهار کانال د زېرمو د پراختيا پروژه د يادې پروژې تر چتر لاندې سيمو کې پراخ فعاليتونه تر سره کړي او ډېر شمېر لاسته راوړنې هم لري، چې د اوبو د مديريت، د بزگرانو د عوايدو زياتولو او د دوی د ستونزو د هوارولو په برخه کې رغنده رول لري.
په ودانيزو چارو کې د يادې پروژې په لاسته راوړنو کې د «NCB۰۰۸» تر چتر لاندې ۱۵ ودانۍ جوړ او بيا رغول شوې دي، چې د عمومي کانال او د اوبولگولو نور کانالونه او همدارنگه د سيفونونو د بيارغولو چارې پکې شامل دي. دغه راز د «ICB-۰۲۲» تر چتر لاندې ۱۱۲ ودانۍ جوړ او بيا رغول شوې چې، د عمومي کانال د پاکولو، بيارغولو، د سيفونونو بيارغول او د دويمې درجې کانالونو بيارغول، د کنټرولي دروازو بيارغول او نصبول او د خاورينو تپو جوړول پکې شامل دي، ترڅو د سېلابونو څخه د کانال د تخريب مخه ونيسي. ددې ترڅنگ د «NCB-۰٤٦»تر چتر لاندې شپږ لوی ودانۍ بيارغول شوې دي، چې د سرخاب سيفون بيارغونه، د نه ويشتمې، دېرشمې او يو دېرشمې ويالې دويمې درجې کانالونو بيارغونه، د چهارواري د محافظتي ديوال جوړول او د عمومي کانال د ځينو تخريب شويو سيمو بيارغونه په کې شامل دي. په ورته وخت کې، په ننگرهار کې د ۲۱ دويمې درجې کانالونو د بيا رغونې چارې ترسره شوې دي او په بلخ ولايت کې د ۱۵ دويمې درجې کانالونو بيارغونه تر سره شوې ده.
د يادو سترو لاسته راوړنو ترڅنگ ياده پروژه په کرونده کې د اوبو د مديريت «OFWM» په برخه کې هم يوشمېر لاسته راوړنې لري. په دې برخه کې، پنځه ننداريزې قطعې په ننگرهار او پنځه ننداريزې قطعی په بلخ ولايت کې جوړې شوې دي. ترڅنگ يې ۱۷۷۳تنه بزگران په بلخ او ننگرهار ولايتونو کې په کرونده کې د اوبو د مديريت په برخه کې روزل شوې دي او د اوبو لگولو ۵۹ ټولنې په ننگرهار او بلخ ولايتونو کې جوړ، ثبت او روزل شوې دي. په ورته وخت کې، د يادې پروژې له خوا د ننگرهار وادي کرنيز شرکت لپاره يو جامع تجارتي پلان جوړ شوې ده او د ننگرهار وادي کرنيز شرکت لپاره کرنيز ماشينونه اخيستل شوي دي.
د ننگرهار کانال د زېرمو د بيارغوني پروژه (NVDA) د اسيايي پراختيا يې بانک له خوا تمويلېږي او د ننگرهار او بلخ په ولايتونو کې د اوبو د سيستم د ارتقا او بيا رغونې له لارې د اوبو د سرچينو د مديريت په برخه کې کار کوي.

# د ننگرهار گني گاڼی او گوړې؛ د گوړو سږني توليد يې څه باندې ۵۰۰ ټنه ده

عبدالواسع خان‌زاده
خبريال

ننگرهار په افغانستان کې په دوديزه توگه د گنيو د کر تر ټولو لويه سيمه ده. دغه ولايت پرېمانه اوبه لري او ځمکه او موسم يې د گنيو کرکيلې ته جوړه ده. د گنيو د کرلو لپاره گرمه سيمه شرط ده، شايد همدا لامل وي چې ننگرهار په تېره ددې ولايت کامې ولسوالۍ غوره ځای ورته گڼل شوی وي. گني ډېرو اوبو ته اړتيا لري، هرڅومره چې ډېرې اوبه ورکړل شي، هومره يې حاصلات ښه وي.
په ننگرهار کې تر ډېره د کامې ولسوالۍ گوړه مشهوره ده او هره ورځ گڼ شمېر ځوانان د گنو، گاڼيو او گوړو ليدو او خوراک لپاره ورځي.
د ننگرهار د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ رياست چارواکي وايي، چې سږ ددې ولايت په يوزر او ۲٦۰ هکتاره ځمکه باندې گني کرل شوي، چې ډېری گني ددې ولايت په کامه، کوز کونړ، بهسود او بټي کوټ ولسواليو کې کرل کيږي. د دوی په خبره د ننگرهار د گوړو د توليد سږني کچه ۵۰۴ ټنوته رسيږي.
گني د کب په ۱۵ مه کرل کيږي او د بل کال د لړم په ۱۵مه حاصل ورکوي. د گني په کروندو کې بېلابېل سابه لکه رومي بانجان، فاصله، پياز، کچالو او داسې نور سابه هم کرل کيږي. د نورو نباتاتو په پرتله د گنيو حاصل او عوايد زات دی.
د ننگرهار د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ رياست چارواکي وايي، چې د ننگرهار د کامې، ښېوې، بټي کوټ او بهسودو ولسواليو گني پر ننگرهار سربېره کونړ، لغمان، کابل او يو شمېر نورو ولايتونو ته هم د پلور لپاره لېږل کيږي.
د ننگرهار د کرنې چارواکي وايي، هڅه يې داده چې کروندگرو ته اسانتياوې برابرې کړي ترڅو د گني کرکېله پراخه او کروندگر د گنيو کرکېلي ته مخه کړي.
گاڼی او گوړې
د کار ماشيني کېدو له امله اوس گڼ شمېر پخواني دوديزې گاڼی بندې شوي او ځای يې نوي او ماشيني گاڼی نيولي دي. په يوه گاڼی کې له لسو تر ۱۲ پورې کسان د شربت له ايستلو، د گاڼی د اور تر بلولو او د گوړې تر چکۍ کولو کار کوي.
د ننگرهار ولايت د کرني، اوبولگولو او مالدارۍ رياست چارواکي وايې، په ننگرهار کې د گوړې جوړولو ټولې۲۴ گانۍ کارکوي او ۳۸۵ کسانو ته په نېغه او نانېغه ډول په کې د کار زمينه برابره شوې ده. سږ کال د دغه صنعت د ودې په موخه د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت له دويم ملي لومړيتوب څخه دملاتړ د پروژې په اډانه کې د گنيو له دوو کاروباريانو سره دوه تړونونه لاسليک شوي دي. د گنيو کروند گر وايي په دې سره به د دوی لپاره آسانتياوې ډېرې او د گوړې جوړولو صنعت به هم وده وکړي.
په دې وروستيو کې د گوړې گاڼيو کارو بار لږ پيکه شوې، بزگران وايي لوی لامل يې دا دی، چې ډېره برخه گني د شربت جوړولو لپاره بازار ته ورځي او د دوی په خبره تر گوړې د گنيو د تازه شربت بازار ښه دی. افغانستان او پاکستان کې د گوړې چای هم مينه وال لري او د مېوې له گډولو وروسته د ډالۍ په توگه هم ورکول کېږي.
کروندگر وايي، پخوا به گني يوازې په ښارونو کې د گنيو د شربت لپاره ترې پېرل کېدل چې نرخونه يې ارزان وو، خو په دې وروستيو کې يې خپله د گوړې د توليد گاڼی جوړې کړې، چې د گنيو د پلور په پرتله يې د گوړې په پلور کې گټه څو چنده زياته ده.
د گوړې توليد اسانه کار نه دی، ډېرې ستړياوې لري، دروند کار دی ډېر وخت او زحمت ته اړتيا لري چې لږ تر لږه درې منه گوړه په يوه ساعت کې جوړېږي.
له گنيو راوتلې اوبه د ټينگېدو لپاره اور ته اړتيا لري. د گنيو شيره په اوبو کې جوش کېږي او بيا وچېږي. د گنيو د اوبه تر گوړې جوړېدو پورې اوږد بهير ته اړتيا لري له دېگ نه د گنيو ټينگې اوبه په يوه لوی لوښي کې راڅڅېږي او بيا وچيږي او وروسته بيا د گاڼی د کارگرانو له خوا ترې گوړه جوړيږي. له گنيو راوتلې گوړه ډېره خوږه او نرمه وي.
د ننگرهار د گنيو گوړه آن تر پلازمېنې کابل او لوېديځو ولايتونو پورې هم رسېږي.
د کامې ولسوالۍ يوتن بزگر حبيب الرحمن په خپله اته جريبه ځمکه کې سږ کال گني کرلي، هغه وايي سږکال گني نه پلوري ځکه د کرنې وزارت له خوا د گوړې د توليد لپاره ورته گاڼی جوړه شوې ده.
د نوموړي په خبره، د گوړې توليد د دوی د گټې وټې د زياتوالي سربېره نورو خلکو ته هم د کار زمينه برابره کړې او هره گاڼی کې د لسو په شاوخوا کې کارگر د گوړې په توليد بوخت دي.
د حبيب الرحمن په خبره د دوی د گاڼی گوړه ډېره ښه ذايقه لري او تر څنگ يې کوم چل او فريب هم په کې نه کېږي؛ نو ځکه يې مينه وال ډېر دي، هغه وويل: «سږکال به يوزر او ۴۰۰ منه گوړه بازار ته وړاندې کړم.»
د ننگرهار اوسيدونکی محمدصابر د گوړې کاروبار کوي، هغه وويل: «زه په ننگرهار ولايت کې د گوړې جوړولو يوه گانۍ لرم، چې د ورځې ۵۰ منه گوړه توليد وي. سږکال ما د ۴۰۰ زره افغانيو په اندازه له بزگرانو څخه گني پيرلې دي او له خپل کاروبار څخه راضي يم.» محمدصابر وويل، چې د وطني گوړې کيفيت تر پاکستاني گوړې ډېره ښه ده او خلک هم وطني گوړه خوښوي. د صابر په وينا د وطني گوړې يومن په ۷۰۰افغانۍ او د پاکستاني گوړې بيه ٦۰۰افغاني ده.
د ننگرهار ولايت کروندگر له پخوا د گنيو له کښت سره بلدتيا لري او د هېواد د گنيو ډېره برخه په دې ولايت کې توليدېږي. د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت د ښو گنيو دتوليد په برخه کې ددې ولايت له کروندگرو سره هر اړخيزې مرستې کوي.



نویسنده: محمدهاشم اسلمی،
مشاور ارشد توسعه‌ی زعفران در وزارت زراعت

# زعفران الگوی خودکفایی اقتصادی

«امنیت غذایی» و « توسعه‌ی پایدار» برای تمامی کشورها از اهمیت خاص برخوردار است و رسیدن به انکشاف اقتصادی و توسعه‌ی پایدار هدف اساسی یک جامعه و یک کشور را تشکیل می‌دهد.

یکی از عوامل تعیین‌کننده و کلیدی در رسیدن به این هدف، انکشاف زراعت است. رشد صادرات محصولات زراعتی موجب شکوفایی بخش زراعت می‌شود که به نوبه‌ی خود زیربنای انکشاف اقتصادی است.

از آن‌جایی‌که زراعت، تهداب اقتصاد افغانستان را تشکیل می‌دهد، باید به آن به عنوان یکی از ارکان‌های اساسی توسعه، توجه خاص صورت گیرد. از طرف دیگر بسیار مهم است تا نباتاتی برای کشت انتخاب شود که بیش‌ترین بهره‌وری اقتصادی را دارا باشد. در میان محصولات مختلف تولیدی در بخش زراعت، یکی زعفران است که ارزش اقتصادی فوق‌العاده‌ای دارد و جزء محصولات خاص یا (High value Crop) شناخته شده است.

در حال حاضر در حدود بیش‌تر از ۹۰ درصد عملیات تولید زعفران در جهان به صورت دستی یا غیرمکانیزه انجام می‌شود. به دلیل بلندبودن دست‌مزدها در کشورهای اروپایی، سطح تولید به نحو چشم‌گیر کاهش یافته است. به طوری‌که تولید این محصول در اسپانیا از ۲۵ تُن در گذشته به ۲.۳ تُن در حال حاضر کاهش یافته است. بنابراین افغانستان در تولید زعفران به دلیل داشتن نیروی کار فراوان و ارزان، دارای مزیت و برتری مطلق است.

از سوی دیگر، تولید زعفران در افغانستان می‌تواند جای خود را به حیث یک کشت بدیل برای کوکنار در ولایات دارای اقلیم مناسب، هر چه بیش‌تر باز نماید و باعث نهادینه‌شدن اقتصاد و درآمد مشروع به جای اقتصاد نامشروع که عواقب اجتماعی، سیاسی و اقتصادی مهلکی را به همراه دارد، شود.

علاوه بر آن‌چه ذکر شد، تغییرات اقلیمی، عدم ضرورت زعفران به آب و آبیاری در فصل تابستان، آسانی حمل و نقل به دلیل کم حجم بودن، امکان انجام ۸۰ درصد از کارهای برداشت و پروسس توسط زنان و دیگر اعضای فامیل، ایجاد زمینه‌ی کار برای مردم قریه‌ها در فصل بی‌کاری (عقرب و قوس)، مقاومت در مقابل امراض و حشرات، عدم ضرورت هر ساله به غوزه، آماده‌ساختن زمین و عملیات کشت و علاقه‌مندی زارعین و دست اندرکاران سکتور خصوصی به کشت این نبات به دلیل درآمد زیاد، از مزیت‌های پیشتازی افغانستان در تولید زعفران شمرده می‌شود.

افغانستان تا حدود چند سال قبل تخم (غوزه) و تار خشک زعفران مورد ضرورت را از خارج وارد می‌ساخت که بر اساس اطلاعات موجود، در گذشته‌ی نه چندان دور طبق سروی که من در بازار هرات و مزارشریف انجام دادم، سالیانه حدود ۴۰۰ کیلو زعفران بسته‌بندی‌شده با کیفیت پایین از ایران وارد می‌شد و جهت مصرف داخلی به فروش می‌رسید. ضمن این‌که غوزه‌ی مورد نیاز زعفران نیز از هالند و ایران به شکل رسمی و یا غیررسمی وارد می‌شد؛ اما اکنون از اثر توجه دولت، علاقه‌مندی سکتور خصوصی و تدوین و اجرای موفقانه‌ی طرح پنج‌ساله‌ی انکشاف زعفران توسط وزارت زراعت، آبیاری و مالداری سطح زیر کشت این نبات که تا چهار سال قبل حدود ۱۰۰۰ هکتار بود، به حدود از ۸۰۰۰ هکتار و سطح تولید به بیش‌تر از ۲۲۰۰۰ کیلو افزایش یافته است و ذخایر موجود غوزه‌ی زعفران در افغانستان، حدود بیش‌تر از ۱۲۰,۰۰۰ تُن تخمین زده می‌شود.

افغانستان که تا چندی قبل در جهان به عنوان کشور تولیدکننده‌ی زعفران شناخته نمی‌شد، امروز در بین ۳۰ کشور که به تولید زعفران روی آورده‌اند، جایگاه دوم را با ۴.۳ درصد تولید زعفران جهان از آن خود ساخته است و ارزش این صنعت در افغانستان حدود بیش‌تر از ۱۴۰ میلیون دالر تخمین زده می‌شود.

در زمینه‌ی صادرات نیز کشور عزیز ما بعد از ایران و اسپانیا، در جایگاه سوم ایستاده است و ۱٦.۴۵ درصد صادرات زعفران جهان به افغانستان تعلق دارد.

از مجموع ۸۵۰ میلیون دالر صادرات سال ۱۳۹۷ افغانستان، حدود ۷۰ درصد، معادل ۵۹۵ میلیون دالر آن محصولات زراعتی بوده است که حدود ۲۵ میلیون دالر یعنی ۴.۳ درصد آن زعفران است که نشان می‌دهد سهم صادرات زعفران افغانستان در بازارهای جهانی که در شروع طرح پنج‌ساله (چهارسال قبل) حدود ۰.۴۵ درصد بود، امسال به حدود ۲.۵ درصد افزایش یافته است.

**زعفران از جمله‌ی اشتغال‌زاترین محصولاتی است که در حال حاضر حدود بیش‌تر از ۳۰۰۰۰ نفر در ۳۴ ولایت کشور به تولید زعفران اشتغال دارند. هم‌چنین با توجه به سطح زیر کشت زعفران در افغانستان، این صنعت توانسته است حدود بیش‌تر از ۱۰۰۰۰ شغل دایمی و حدود ۲,۱٦۰,۰۰۰ روز کار فصلی، ایجاد کند.**

شمولیت زعفران به عنوان یک سکتور مستقل در پالیسی ملی صادرات و تدوین و تصویب استراتژی صادرات زعفران در شورای عالی اقتصاد و شورای وزیران در کنار تصویب طرح ملی پنج‌ساله‌ی انکشاف پایدار زعفران، ایجاد لابراتوار کنترل کیفیت زعفران و تلاش برای اعتباردهی سرتفکیت‌های آن در سطح بین‌المللی به کمک ITC، ایجاد انستیتوت بین‌المللی تحقیقات و آموزش زعفران که کار ساختمان آن آغاز شده است، نمایان‌گر عزم راسخ وزارت زراعت، آبیاری و مالداری برای حمایت از انکشاف پایدار این صنعت است.

توجه به تضمین کیفیت از طریق ایجاد و تجهیز مراکز پروسس و بسته‌بندی، تسهیل و حمایت از سکتور خصوصی جهت دریافت سرتفکیت‌های بین‌المللی، برگزاری پنجمین کنفرانس ملی زعفران با اشتراک متخصصان کشورهای خارجی، متشکل‌ساختن شرکت‌ها در اتحادیه‌ی ملی زعفران، برگزاری آموزش‌های کوتاه‌مدت داخلی و خارجی برای دهقانان و کارمندان، چاپ جزوه‌های آموزشی، تدوین طرزالعمل‌های اجرایی، تخنیکی و کمیته‌ی کنترل کیفیت زعفران، ایجاد سکرتریت کمیته‌ی ملی حمایت از انکشاف زعفران، تهیه‌ی مدل انکشاف پایدار کمی و کیفی زعفران، شروع اجرای طرح‌های تحقیقاتی، تربیه‌ی ترینرها در سطح ولایات و ولسوالی‌ها، تهیه‌ی خشک‌کن‌های اتوماتیک، برگزاری جشنواره‌های زعفران، چاپ بولتن انگلیسی معرفی زعفران افغانستان و توزیع آن در کشورهای مختلف از طریق سفارت‌خانه‌های جمهوری اسلامی افغانستان، ممنوع ساختن واردات زعفران و غوزه‌ی آن به حکم رییس جمهور و عقد تفاهم‌نامه‌ها با کشور چین، امارات متحده عرب و هندوستان را می‌توان نیز در راستای برنامه‌های وزرات زراعت، آبیاری و مالداری جهت رسیدن به خودکفایی و افزایش صادرات زعفران ارزیابی کرد.

علاوه بر دست‌آوردهای چشم‌گیر فوق، وزارت زراعت در برنامه‌ی پنج‌ساله‌ی دوم خود که در دست تهیه است، سعی خواهد کرد تا با تمرکز و سرمایه‌گذاری بالای افزایش مولدیت مزارع زعفران، بازاریابی مستقیم از طریق انجمن‌ها، شرکت‌ها و اتحادیه‌های تولیدکننده‌گان، ترویج استفاده از انترنت برای بازاریابی الکترونیک، به کارگیری بسته‌بندی و استانداردهایی جهانی برای پروسس و بازاریابی زعفران، کمک به سکتور خصوصی جهت تدوین و معرفی نشان تجاری مخصوص برای زعفران صادراتی افغانستان، سازمان‌دهی مناسب صادرکننده‌گان و اعمال استانداردهای جهانی ISO, HACCP, CODEX، ایجاد تسهیلات برای کاهش صادرات زعفران به شکل عمده و ایجاد و توسعه‌ی تشکل‌های بازاریابی تخصصی، تولید زعفران را اقتصادی کند و شرایط لازم جهت افزایش عاید تولیدکننده‌گان صنعت زعفران را فراهم سازد تا افغانستان در آینده‌ی نزدیک بتواند با توجه به ظرفیت‌های موجود از نظر شرایط مناسب اقلیمی و کیفیت عالی زعفران تولیدی، حدود ۵۰ درصد زعفران تولیدی و مورد نیاز بازارهای جهان را به خود اختصاص دهد و ما را به خودکفایی اقتصادی نزدیک کند.





عبدالواسع خان‌زاده
خبریال

# هلمند کې د پنبې کرکيله؛ د مالوچو سږني حاصلات يې ۲۰ سلنه زيات شوي

افغان بزگران لـه ډېر پخوا راهیسي پنبه دانه کري. يو وخت افغانستان په سيمه کې د پنبې او نخي کاليو ستر توليدوونکی هېواد وو. په افغانستان کې د پنبې ډېري کارخونې هم شتون درلود. د پنبې کرکېله له ميلاده ۴۰۰ کاله مخکې په باختر کې دود وه خو په افغانستان کې په ۱۳۱۴ ام کال کې د پنبې کرکېله دود شوی.

اوس مهال د افغانستان د بېلابېلو ولايتونو په لسگونه زره هکتاره ځمکه کې پنبه کرل کيږي.

هلمند، بلخ، پروان، کنړ، ارزگان، فارياب، هرات، بغلان، بادغيس، نيمروز،جوزجان، کندز، لغمان، تخار، کاپيسا، ننگرهار، سمنگان، سرپل، کندهار او کابل هغه ولايتونه دي، چې په کې پنبه کرل کيږي.

هلمند هغه ولايت دی، چې پخوا د پنبې د توليد په برخه کې نوموتی ولايت و. ددې ولايت د کرنې رياست چارواکي وايي، چې د کرنې وزارت په مرسته يې هلې ځلې پيل کړي، ترڅو په دې برخه کې ددې ولايت پخواني برم بېرته ترلاسه کړي. د هلمند د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ رييس زلمی الکو وايي، چې سږکال ددې ولايت په ۱۵ زره او ۹۱۰ هکتاره ځمکه کې پنبه کرل شوې وه، چې په ټوليزه توگه ۲۰ زره او ۲۰۰ متريک ټنه مالوچ ترې تر لاسه او بازار ته وړاندې شوي دي.

دهغه په خبره په دې ولايت کې د پنبې دکرکېلې د ودې او پراختيا په پار پر بزگرانو د پنبې اصلاح شوي تخونه، کيمياوي سرې، دارتيا وړ درمل او نور اړين توکي وېشل شوي او ترڅنگ يې بزگرانو او ځمکوالو ته د پنبې ننداريزې قطعې هم جوړې شوي دي.

د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت په ټول هېواد کې د پنبې د کرکېلې او ترويج په موخه د پنبې ننداريزې قطعې جوړې کړې دي او ترڅنگ يې پر هغو بزگرانو چې د پنبې کرکېله کوي د پنبې د کرکېلې او حاصلاتو را ټولولو اړين توکي هم وېشلي دي.

له پنبې څخه له غوړو نيولي بيا تر کالو پوري توکي توليديږي. پخپله د پنبې دانې او بوټي کېدای شي، چې د سون موادو او يا هم د نورو بوټو لپاره د کيمياوي سرې په توگه وکارول شي.

د هلمند ولايت مالوچ چې پخوا يې د سپينو زرو په نوم شهرت درلود، د بُست تصدۍ په فابريکه کې پروسس کيږي او بزگر هم خوښ دی چې په خپل ولايت کې يې محصولات پروسس او گرم بازار لري.

د هلمند ولايت د بُست تصدۍ د هېواد په کچه لرغونی فابريکه ده، چې د څه باندې ۳۰ زره ټنه پنبې د پروسس وړتيا لري. د بُست تصدي په ۱۳۴۳ ام کال کې د عليحضرت محمدظاهر شاه په وخت کې جوړه شوې ده، چې په هغه وخت کې يو زر او ۱۵۰ کسان په کې په دندو بوخت وو او مالوچ، پنبه، غوړي، صابون او کنجاره به يې توليدول. خو د کورنيو جگړو له امله ياده فابريکه خپل کار په ټپه ودرول او ماشينونه او اړين وسايل يې هم له منځه ولاړل.

د طالبان په دوره کې يې بېرته په فعاليت پيل وکړ، چې په کلنۍ ډول يې له پنځو تر اته زره ټنه پنبه پروسس کول. د پخواني ولسمشر حامد کرزي د دورې په لومړيو وختونو کې د لنډې مودې لپاره فعاله شوه بېرته بيا د څو کلونو کالونو لپاره فعاليت نه درلود. د هلمندولايت د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ رييس زلمي الکو وايې، چې ياده فابريکه اوس بيا فعال شوې دی او د مگرۍ ۲۰۰ تنه کار کوونکي يه کې دنده تره سره کوي. ياده فابريکه د څه باندې ۳۰ زره ټنه مالوچو د پروسس وړتيا لري.

هېواد کې د مالوچو ترټولو لويه فابريکه بيا د هرات په صنعتي پارک کې شتون لري. د «طلای سفيد افغان» کارخونه د څه باندې ۷ ميليونه ډالرو په پانگونې سره په ۱۳۹٦ يم کال کې پرانيستل شوه. د «طلای سفيد افغان» د کارخونې چارواکي وايي، چې دغه فابريکه د څه باندې۷ ميليونه ډالرو په پانگونې سره له پنبې څخه د خالص تار د توليد په موخه جوړه شوې ده. د دوي په خبره ياده فابريکه په ورځ کې د ٦ تر ۹ټنه خالص تار د توليد وړتيا لري، ددې ترڅنگ په دې فابريکه کې ۳۵۰ کسانوته په نېغه او زرگونو نورو کسانو ته په نانېغه توگه د کار زمينه هم برابره شوې ده. ددې فابريکې توليدات د کورنيو بازارونو ترڅنگ د سيمې او نړۍ بازارونو ته هم صادريږي. ددې فابريکې ترڅنگ اوس مهال په افغانستان کې د نساجي يوشمېر فابريکې فعالي دي، خو د دغې برخې د ودې لپاره لا ډېر کار ته اړتيا شته.

د کارخانو تر څنگ په کليو کې ښځې په سنتي ډول هم له پنبې څخه تار جوړوي.

په وروستيو کلونو کې يو شمېر نړيوالو مرستندويه سازمانونهافغان مېرمنو ته داسې ماشينونه ورکړل چې په مرسته يې هغوی له پنبې تار جوړولای شي.

افغانستان يو وخت په سيمه کې د پنبې يو لوی توليدونکی هېواد وو، په وروستيو کلونو کې په دې برخه کې بيا ډېرې هڅې رواني دي.



شجاع‌الحق نوری
گزارش‌گر

# مالداری در جوزجان رو به توسعه است



جوزجان یکی از ولایت‌های مهم برای مالداری و پرورش حیوانات است. این ولایت بیش از یک میلیون و ۶۰۰ هزار حیوان دارد.

جوزجان دارای چراگاه‌های وسیع می‌باشد و برای پرورش حیوانات مساعد است. دشت لیلی، بیانغر، طلاکل، التی چناق، سیاه‌کمر و تورلی از مهم‌ترین ساحات چراگاهی در جوزجان است.

ساحات دشت لیلی یکی از بزرگ‌ترین چراگاه‌های زمستانی و تابستانی نه تنها برای مالداران این ولایت است، بلکه برای مالداران ولایات سرپل، فاریاب و غور نیز چراگاهی مناسب است. چوپان‌های این ولایات در فصل زمستان از این چراگاه برای تغذیه –حیوانات‌شان استفاده می‌کنند. در جوزجان جمعاً یک میلیون و ٦١٦ هزار و ٦٩٨ حیوان خانه‌گی مختلف تحت پرورش قرار دارند که اکثریت این حیوانات را گوسفندان قره‌قلی تشکیل می‌دهد.

پوست قره‌قل، شیر، گوشت و پشم تولیدات عمده‌ی حیوانی جوزجان می‌باشد. پوست قره‌قل جوزجان شهرت جهانی دارد.

وضعیت مالداری در جوزجان در مقایسه با سال‌های گذشته بهبود یافته است. اما، خشک‌سالی در ۱۳۹۷ به وضعیت مالداری در این ولایت خساراتی سنگینی وارد کرد و در حدود ۳۰ تا ۳۵ درصد حیوانات به دلیل خشک‌سالی و کمبود خوراکه حیوانی کاهش یافت.

اما طی دو سال گذشته به اثر بارنده‌گی کافی و فراوان وضعیت چراگاه‌ها بهبود یافت و حالا مالداران از وضعیت مالداری رضایت دارند. سکتور مالداری خوشبختانه روبه انکشاف می‌باشد و می‌توان گفت که نسبت به سال‌های قبل وضعیت مالداری بهبود یافته و مالداران دریک وضعیت خوب‌تری قرار دارند.

در همین حال، ریاست زراعت آبیاری و مالداری جوزجان در تشکیلات خویش یک باب فارم تکثیری و تحقیقاتی جهت ترویج و تکثیر نسل گوسفندان قره‌قلی دارد و همه ساله یک تعداد قوچ بره‌های نسلی به مالداران علاقه‌مند توزیع می‌کند. این اقدام باعث شده تا از یک طرف نسل اصیل قره‌قلی کشورمان حفظ گردد و از جانب دیگر علاقه‌مندی مالداران جلب کرده و روز به روز مالداری در حالت انکشاف است.

# شیرین‌بویه؛ هم شیرین هم درمان



✍محمد تمیم صدیقی
گزارش‌گر

در ادامه‌ی معرفی محصولات مهم زراعتی افغانستان، این بار، شیرین‌بویه را به معرفی می‌گیریم. در نخست، وضعیت شیرین‌بویه را در چند ولایت برای شما به معرفی می‌گیرم. در بخش دوم، روی اطلاعاتی در مورد این تولید پرارزش افغانستان پرداخته‌ایم.



## شیرین‌بویه در بادغیس

بادغیس در شمال غرب افغانستان موقعیت دارد و با ولایت‌های هرات، فاریاب، غور و نیز با کشور ترکمنستان هم‌مرز است.

آب و هوا در ولایت بادغیس خشک است، در زمستان برف و باران میبارد و در تابستان بادهای موسمی دارد. ولایت بادغیس به خاطر کوهستانی بودن آن به ویژه در نواحی جنوب غرب و جنوب شرقی مناظر زیبای طبیعی زیادی دارد. اقتصاد این ولایت عمدتاً بر محصولات زراعتی متکی است. زراعت آن به شکل للمی بوده کم‌تر از وسایل و لوازم تخنیکی و مدرن در آن کار گرفته می‌شود، حاصلات زراعتی آن عبارت‌اند از گندم، جو، جواری، نخود، زیره، کنجد، تربز، خربزه و ... می‌باشد. بادغیس از قدیم‌الایام تا امروز به نام گدام خراسان و حوزه غربی افغانستان مشهور بوده است. جنگل‌های پسته و محصول آن در بادغیس، منبع بزرگ عایداتی مردم و بخش عمده صادرات افغانستان را تشکیل می‌دهد. پیشه‌ی دوم مردم این دیار مالداری و تربیت گوسفند نوع قره‌قلی است که از همین مدرک همه‌ساله گوسفند، پوست قره‌قل، پشم، کُرک و قروت به سایر ولایت‌ها و نیز به خارج صادر می‌شود.

در کنار سایر محصولات و گیاهان طبی در این ولایت شیرین‌بویه نیز یکی از گیاهان مشهور و عمده به شمار می‌رود.

ریاست زراعت ولایت بادغیس از وضعیت شیرین‌بویه در این ولایت خبر می‌دهد.

عبدالعلیم ساجد آمر امور زراعتی ولایت بادغیس می‌گوید: «شیرین‌بویه یا مخ در ولایت بادغیس بشکل وحشی یا طبیعی در مناطق با ارتفاعات بلند پیدا می‌شود؛ اما به شکل مصنوعی و زراعتی آن تا حال کار صورت نگرفته است توسط مردم کشت نمی‌شود.»

او افزود که شیرین‌بویه در ولایت بادغیس که در ارتفاعات بلند کوهستانی وجود دارد در حدود شش هزار هکتار زمین، و در ولسوالی‌های جوند، قادس، مقر و آب‌کمری می‌رسد.

## شیرین‌بویه در بدخشان

بدخشان در زون شمال‌شرق کشور قرار دارد، یکی از ولایات کوهستانی و سرسبز بوده و با تاجیکستان، پاکستان و چین سرحد دارد.

این ولایت دارای منابع سرشار طبیعی از جمله معادن لعل و لاجورد بوده و آبده‌های تاریخی، دلالت بر قدامت آن می‌نماید.

اکثر اهالی بدخشان زراعت‌پیشه و مالدار اند، محصولات عمده زراعتی را غله‌جات مانند برنج، گندم، جو، جودر(گندم سیاه)، جواری، ارزن و باقلی تشکیل می‌دهد.

از جمله میوه‌ها توت و چهارمغز، زردآلو، آلوبالو و سیب آن مشهور است. سیب بهارک و چهارمغز سرغیلان محصولات این ولایت است که از شهرت خوبی برخوردار است. علاوتاً چهارمغز، بادام کوهی، ارچه، خنجک، شمشاد و غیره در مناطق کوهستانی بدخشان یافت می‌شود.

مسوولان در ریاست زراعت ولایت بدخشان می‌گویند که شیرین‌بویه در این ولایت وجود دارد اما به گونه مصنوعی و زراعتی نیست

سید معین‌الدین، رییس زراعت ولایت بدخشان می‌افزاید که شیرین‌بویه به گونه وحشی و طبیعی آن در ارتفاعات بلند کوهستانات این ولایت وجود دارد و مردم به شکل زراعتی از آن استفاده می‌کند.

شیرین‌بویه در ولسوالی‌های واخان، زیرک و اشکاشم وجود دارد. تا حال به گونه تجارتی در این ولایت خرید و فروش نمی‌شود.

## اما شیرین‌بویه چیست؟

شیرین‌بویه یکی از نباتات مهم طبی است که در قسمت‌های شمالی و مرکزی افغانستان می‌رویَد. مقدار زیاد آن به گونه وحشی و طبیعی در ولایت‌های بدخشان، تخار، کندز، بلخ، جوزجان، فاریاب، سرپل، هرات، بامیان و بادغیس می‌رویَد. شیرین‌بویه Glycerrhiza glabra از جمله نبات چند ساله و علفی می‌باشد. که ارتفاع آن نظر به شرایط از یک تا دو متر نیز می‌رسد. برگ‌های آن مرکب شانه مانند و یک عدد برگچه در نوک برگ‌ها قرار دارد. گل‌ها به رنگ‌های آبی، آبی متمایل به ارغوانی و گاهی نیز زرد رنگ می‌باشند. میوه این گیاه پلی‌دار بوده و معمولاً در هر پلی سه تا شش عدد ریشه‌ی لوبیایی شکل قرار دارد. ریشه‌ها و ریزوم‌های زرد رنگ با پوست قهوه‌ای و طعم شیرین می‌باشند. شیرین‌بویه انواع مختلف دارد اما نبات ذکر شده نوع مرغوب آن است که مورد توجه مارکیت‌های جهانی و مصرف‌کننده‌گان خارجی قرار دارد.

شرین‌بویه در بیش‌تر از مناطق جهان مخصوصاً بین عرض‌البلد ۳۰ تا ۴۵ درجه نیمکره شمالی زمین می‌روید. در کشور ما از پراگنده‌کی وسیع برخوردار بوده و تقریباً در اکثر ولایات رشد و نمو می‌کند. ولایاتی که بیش‌تر معروف اند و در حال حاضر مورد توجه دست‌اندرکاران جمع‌آوری، عرضه، فروش و صدور ریشه شیرین‌بویه به خارج از کشور قرار دارند ولایات بدخشان، تخار، کندز، بلخ، جوزجان، فاریاب، سرپل، هرات، بامیان و بادغیس می‌باشند.

شیرین‌بویه طور کلی یک گیاهی نورپسند است که در طول رویش خود به هوای گرم و رطوبت متوسط نیاز دارد. شیرین‌بویه در مناطقی که میزان بارنده‌گی سالانه‌ی ۴۰۰ تا ۱۱۶۰ میلی متر می‌باشد به صورت خودرُو می‌روید. این گیاه در خاک‌های شنی عمیق که حاوی ترکیبات کلسیمی باشند. به خوبی رشد کرده و PH مناسب خاک برای این گیاه ۵.۵ تا ۸.۲ ذکر گردیده است.

شیرین‌بویه را فابریکه‌های بزرگ به شکل اکستری، پودر، تینچر، کامپوند ساخته و در معرض استفاده‌ی مردم قرار می‌دهند.

ترکیب کیمیایی شیرین‌بویه:

عبارت از گلوکوز، سکروز، امیدون، سپارازین، مواد البومینی و غیره می‌باشد. مواد مؤثر آن گلسرین است که سبب شیرینی ذایقه آن می‌گردد. رنگ شیرین‌بویه، نسواری، خاکستری و زرد است.

**استفاده شیرین‌بویه در صنعت:**

کارخانجات سگرت‌سازی محلول آن را برای خوشبو ساختن طعم آن به کار می‌برند. شیرین‌بویه را برای معالجه آنژین، برانشیت، قبضیت، رفع اختلالات مثانه، رفع ورم چشم و غیره به کار می‌برند.

شیرین‌بویه اگر ۵۰ گرام بیخ شیرین‌بویه بعد از پارچه کردن در یک لیتر آب جوش داده شده بعد از دوازده ساعت تر کردن از صافه کشیده شود، جوشانده مذکور اگر در مواقع عفونت‌های گلو، انژین، برانشیت، گرفته‌گی حنجره و صدا نوشیده شود خیلی موثر است. برای رفع خونریزی بیره‌ها توسط جوشانده ۲۰ درصد ریشه خشک آن را روز دو مرتبه در دهن مضمضه شود مفید واقع می‌گردد.

**طریق ساختن پودر شیرین‌بویه:**

بیخ شیرین‌بویه را قسم تریشه‌های کوچک در آورده و توسط داش برقی خشک می‌کنند و بعد توسط آسیای برقی پودر آن را بدست می‌آرند که این تکامل آنقدر دشوار نبوده ایجاب مصرف زیاد را نمی‌نماید.

(برگرفته شده از کتاب طلا خود رو مولف حیات الله یوسفی)

هفته‌نامه دهقان

صاحب امتیاز: وزارت زراعت، آبیاری و مالداری
(۰۷۶٦٤۰۰٦۰۰ - akbar_rostami۱۰@yahoo.com)
مدیر مسوول: سید نورالعین ۰۷۹۳٤۰۵۵۹۹ - snoorulainn@gmail.com
دبیران: ظفرشاه رویی، جمعه‌گل اشرفی
گزارشگران: گیتی محسنی، شفیق‌الله نوری، شجاع‌الحق نوری
نعیم رضایی، حشمت‌الله حبیبی، مینا افسری
عبدالواسع خان‌زاده، محمد تمیم صدیقی و نور الله پتمن
برگ‌آرایی: بشیر رسا

نشانی برقی: Public.relation@mail.gov.af
ویب‌سایت: www.mail.gov.af
فیس‌بوک: وزارت زراعت، آبیاری و مالداری / د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت
تویتر: @MAIL_AF
شماره‌های تماس: ۰۷٦٦٤۰۰٦۰۰ ۰۷٤۸۰۰۹۱۳۷
آدرس: جمال مینه، کارته سخی، کابل، افغانستان

DEHQAN WEEKLY

STANDARD AGRICULTURE: ACCESS TO GLOBAL MARKET

No: 119 ▪ Dehqan Weekly ▪ Saturday ▪ December 5th ▪ 2020



# کاکا مراد اسطوره‌ی انسان‌دوستی

تتسو ناکامورا ۱۵ سپتامبر ۱۹۴۶ – ۴ دسامبر ۲۰۱۹